AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فدامحمد نومیر

۲۰۲۶/۰۴/۰۶

# د افغاني مور درس

زما کور ته چي په بده سترګه ګوري
پري به وشمارم دشنه اسمان ستوري

ما د ډيرو سترګي يو رپ کي راکښلي
چا چي ماته دي ويلي سپکي سپوري

لا تر اوسه ليوني او سر ګردان دي
چي خوړلی يي ګوزاردی زما له لوري

راته ګرانه ده تر ځان اولاد مي خاوره
په زانګو کي درس راکړی افغان موري

پام کړه بد نظر زما پر لوري نه کړي
ماچي کړي هغه ځای کي دي خاپوړي

ورسه و پوښته له هغه بد معاشانو
درته و به کړي قيصي توري په توري

دا وطن مي د غيرت په وينو سور دی
دلته نسي پاتيدای د غليم سيوري

د ايمان په زور مي هرمورچل قايم دی
غرو رغو کي د بازانو ځالي نوري

نه مي سر تيتيږي هيڅ وخت و ظالم ته
که را پريوځي د اسمانه غرونه دوري

هر سنګرد ننګ د تورو مي ميدان دی
په ليدو مي دښمنان ټول سي شبکوري

دا وطن مي د نيکونو امانت دی
ډهلي هيڅ ورته د شاه ولي په توري (۱)

نومير و پيبه اميل د ملغلرو
په پښتو يي ښايسته کړ او ګلوري

۴- اپريل - ۲۰۲۶
متحده ايالات – کلفورنيا

(۱) د شاه ولي الله رح ليک احمدشاه بابا ته.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په څير و لولئ